
# د نوي زیږیدلي ماشوم د وینې معاینه کولی شي ستاسې د ماشوم ژوند وژغوري




## ولې؟

دا د وینې ځانګړی ټېسټ کولی شي هغه نایاب ناروغۍ تشخیص کړي چې که په وخت یې درملنه ونشي نو د معیوبیت یا مړینې لامل کېدی شي.

## څوک؟

د ایالت قانون د روغتیا پاملرنې وړاندې کونکو څخه غواړي په ایالت کې زیږیدلي هر ماشوم څخه د معاینې لپاره دوه بیلګې واخلي.

## کله؟

د لومړي ټېسټ بیلګه باید هغه مهال واخیستل شي کله چې ستاسې ماشوم د شاوخوا 24 ساعتونو وي. د دوهم ټېسټ بیلګه باید هغه مهال واخیستل شي کله چې ستاسې ماشوم د شاوخوا دوه اونیو وي. که تاسې یې لرئ، د زیږون وروسته ستاسې لومړۍ لیدنه کې د دوهمې معاینې کارت خپل د ماشوم روغتیا پاملرنې وړاندې کونکي ته ویسئ.

## څنګه؟

ستاسې د ماشوم پښې څخه د وینې یو څو څاڅکي د ټېسټ ځانګړي کاغذ باندې ایښودل کېږي.

## د ټېسټ پایلو څرنګوالی؟

د ټېسټ پایلو لپاره د خپل ماشوم ډاکټر څخه پوښتنه وکړئ. بل ټېسټ ځینې وختونه د مختلفو دلایلو لپاره اړین وي. که ماشوم مو نورو ټېسټونو ته اړتیا ولري نو دا مهمه ده چې ژر تر ژره عمل وکړئ. که اړتیا وي، درملنه باید هرڅومره ژر چې ممکن وي پیل شي.

## استثناآت وړاندې کېږي

تاسې کولی شئ د ځانګړي دلایلو لپاره ستاسې د ماشوم نه ټېسټ کول غوره کړئ. که له تاسې د ټېسټ لپاره د تادیه کولو غوښتنه وشي، تاسې ممکن د فیس معافیت لپاره په شرایطو برابر اوسئ. د بشپړ تفصیلاتو لپاره bit.ly/nbs-exception ته ورشئ.

## د نورو معلوماتو لپاره

- خپل ډاکټر، قابلې یا نرس سره خبرې وکړئ.
- د لاندې ویب سایټونو څخه لیدنه وکړئ:

**د اوریګون ایالت عامه روغتیا لابرتوار**
www.healthoregon.org/nbs

**د ماشوم لومړی ټېسټ**
www.babysfirsttest.org



## د پېژندل شوي ناروغیو/ وضعیت مثالونه

- د بیوټینیداز کمښت
- موررزادي ادرینال هایپرپلازیا
- موررزادي هایپوتایرایډیزم
- سیسټیک فیبروسیس
- ګلاکتوسیمیا
- فینیلکیتونوریا (PKU)
- سیکل سیل او نور هیموګلوبینوپیتیز
- د مرکب معافیت شدید نقص
- د ملا تیر عضلاتي اتروفي (SMA)
- ایکس – لنکډ اډرینولوکوډیسټرافي (X-ALD)*
- نور میتابولیکي او لیسوسومي زیرمې اختلالات

* د اختلال لپاره معاینات به د 2023 جنوري په 1 یا لدې مخکې پیل شي.

تاسو کولی شئ دا سند په نورو ژبو، لوی چاپ، د ړندو لپار لیک یا په هغه بڼه کې ترلاسه کړئ چې تاسو یې غوره کوئ. د اوریګون ایالت د عامې روغتیا لابراتوار سره په 503-693-4100 اړیکه ونیسئ (غږ). دوی ټول ریلي زنګونه مني.

Oregon Health Authority

OHA 8541 (07/2022) Pashto